**Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English**
Abbreviated Key Title: *Spr. Multidiscip. J. PS. Per. E.*
Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe/
**ISSN: 2584-0975 (online)**
*Vol.1(01). Sep 2023, pp, 01-09*
OPEN ACCESS

*Research Article*

# The Ways of Human Creation in the Qur'an and the Poems of Abdul Rahman Baba

# په قرآن کریم او د عبدالرحمن بابا اشعارو کې د انساني پیدایښت خرګونه

**Abdullah Awwab[1*], Mohammad Kazim Gojar[2]**
عبدالله اواب [1*]، محمد کاظم ګجر [2]

[1]Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Kabul University, Afghanistan
کابل پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو ژبې او ادب څانګه
[2]Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Education, Bamyan University, Afghanistan
بامیان پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، پښتو ژبې او ادب څانګه

**DOI:** 10.55559/smjppe.v1i01.27 **Received:** 10.07.2023 | **Accepted:** 15.08.2023 | **Published:** 20.08.2023

**Electronic reference *(Cite this article):***
Awwab, A., & Gojar, M. K. (2023). The Ways of human creation in the Qur'an and the Poems of Abdul Rahman Baba : په قرآن کریم او د عبدالرحمن بابا اشعارو کې د انساني پیدایښت خرګونه. *Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English*, *1*(01), 01–09. https://doi.org/10.55559/smjppe.v1i01.27

**Copyright Notice:**
© 2023 the Author(s). This is an open access article published by Sprin Publisher under the Creative Commons' Attribution 4.0 International (CC BY 4.0) licence. https://creativecommons.org/licenses/by/4.0/

## Abstract

The title of this research paper is "The Ways of human creation in the Holy Qur'an and the Poems of Abdul Rahman Baba", in which a complete exploration and study of human creation in the poems of Abdul Rahman Baba have been done by looking at the concepts of the verses of the Holy Quran. The main purpose of Abdul Rahman Baba's poems is to explain the creation of man according to the Quranic concepts. Abdul Rahman Baba's poems are explored in the light of Quranic concepts and the conceptual similarity of Abdul Rahman Baba's poems with the Quranic concepts about human creation as a whole has been investigated. This research has a bibliographic form. The obtained information has been analyzed descriptively, in which descriptive and comparative methods have been used. Abdul Rahman Baba was a poet, scholar and Sufi of his time who opened his innovative way in Pashto poetry with the help of his great talent and knowledge. The verses that he has said about the various concepts of the Qur'an regarding human creation have been clearly and usefully explored. Since Abdul Rahman Baba enriched Pashto literature and especially poetry in terms of subject matter, he turned to new subjects (Qur'anic concepts) instead of old ones. In summary, it can be said that Abdul Rahman Baba's poems in the light of Quranic concepts indicate that he expressed new ideas in Pashto poetry as a religious scholar and poet, which is very popular in contemporary times. It paves the way for study and new research, so on this basis, Abdul Rahman Baba has been introduced as a great poet and religious scholar.

**Keywords:** *Quran Al-Kareem, Human Creation, Abdul Rahman Baba, Poems, Thematic similarity*

**لنډیز**

دغه څېړنیزه مقاله چې سرلیک یې (په قرآن کریم او د عبدالرحمن بابا اشعارو کې د انساني پیدایښت څرګونه) دی  پکې د قرآن کریم د آیتونو مفاهیمو ته کتو سره د عبدالرحمن بابا په اشعارو کې د انساني پیدایښت بشپړه سپړنه او څېړنه ترسره شوې ده. اساسي موخه یې د عبدالرحمن بابا په اشعارو کې د قرآني مفاهیمو سره سم د انسان پیدایښت تشریح کول، د عبدالرحمن بابا اشعار د قرآني مفاهیمو په رڼا کې سپړل او په ټوله کې د انسان پیدایښت په اړه د قرآني مفاهیمو سره د عبدالرحمن بابا د اشعارو مفهومي ورته والی څېړل دي. دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري، تر لاسه شوي معلومات پکې په تشریحي توګه څېړل شوي دي، په څېړنه کې د تشریحي او مقایسوي روش څخه ګټه اخیستل شوې. عبدالرحمن بابا د خپل وخت یو داسې شاعر، عالم او صوفي و چې د خپل عالي استعداد او پوهې په مرسته یې په پښتو شعر کې خپله نوښتګره لاره پرانستې ده. په دې څېړنه کې عبدالرحمن بابا د یو شاعر او دیني عالم په توګه، د ده بېلابېل اشعار چې د انساني پیدایښت په اړه د قرآن کریم د مختلفو مفاهیمو په اړه یې ویلي دي روښانه او ګټوره سپړنه یې شوې ده، څرنګه چې عبدالرحمن بابا پښتو ادب او په خاص ډول شعر د مضمون له پلوه داسې بډایه کړ، چې د پخوانیو موضوعګانو پر ځای نویو موضوعګانو ( قرآني مفاهیمو ) ته مخه کړه چې همدې نوښت یې په پښتو شعر و شاعرۍ کې په محتوایي لحاظ سره ژور بدلون رامنځته کړ. په لنډیز سره دا ویلی شو چې د عبدالرحمن بابا اشعار د قرآني مفاهیمو په رڼا کې شنل دا په ګوته کوي چې هغه د یو دیني عالم او شاعر په حیث په پښتو شعر کې نوي افکار بیان کړي، چې په معاصر وخت کې د ډېرې مطالعې او نویو څېړنو لپاره لاره پرانیزي نو په همدې اساس په دې څېړنه کې عبدالرحمن بابا د یو ستر شاعر او دیني عالم په حیث معرفي شوی دی.

**کلیدي کلمې:** قرآن کریم، انساني پیدایښت، عبدالرحمن بابا، اشعار، موضوعي ورته والی

**سریزه**

څرنګه چې قرآن کریم الهي کلام دی او د نړۍ پر مخ د انساني ژوند ټولې خواوې پکې شاملې دي. په دې معنا چې د زمکې پر مخ د ژوند تېرولو ټول نظام پکې راغلی دی او د انسان له ژوند سره نېغ په نېغه تړاو لري. قرآن عظیم الشأن د هر انسان له پاره چې د دغه مبارک کلام تلاوت کوي او ځان پرې پوهوي بې له شکه نور، هدایت، رحمت او شفاء لما فی الصدور دی او په ژوند او کلام کې یې ژور اغېز لري. د عبدالرحمن  بابا د کلام له مطالعې په ډاګه کېږي، چې عبدالرحمن  بابا هم د ژوند په اوږدو کې د دغه مبارک کتاب ملګرتیا پاللې ده او له نبوي لارښوونې سره سم یې د کلام الله قرائت کړی او تلاوت یې اورېدلی دی.

د عبدالرحمن  بابا تصوفي اشعار چې پوهانو د الهي کلام د مبارکو مفاهیمو ترجماني بللې ده د پښتو ژبې او ادب له پاره ډېره مهمه پانګه ده په همدې پار یې د اشعارو هر اړخیزه څېړنه ښورا ارزښتناکه بللی شو. په کلام کې یې د مبارک کتاب (قرآن  کریم ) مفاهیم څېړل کولای شي د هغه د کلام په لاښه شننه او پوهېدنه کې د ادب له لارویانو او مینه والو سره مرسته وکړي، د موضوع د انتخاب له پاره یو عمده لامل هم همدا و. د دې موضوع ضرورت او اهمیت په دې کې دی چې د عبدالرحمن بابا د اشعارو دا اړخ څېړل خورا مهم او ارزښتمن دی، ځکه

چې په زده کړیزه برخه کې به د کار ډېره اسانتیا رامنځته کړي. له دې څېړنې دا توقع هم کېږي چې د پښتو ژبې د نوموتي شاعر په کلام کې د الهي ارشاداتو لارښوونو موندلو تر څنګ د پښتو ادب زده کړیالانو ته کار او څېړنې نوې مفکوره هم په لاس ورکړي.

په پای کې ویلی شو چې  دا څېړنه د عبدالرحمن  بابا په اشعارو کې د قرآن عظیم الشأن د مبارکو سورتونو په آیتونو کې د انساني پیدایښت په اړه هغه مفاهیم سپړلي دي، چې د عبدالرحمن بابا په کلام کې په شاعرانه ژبه او خاص رنګ او هنر ځای پر ځای شوي دي.

**د انسان پیدایښت**

په دنیا کې د الله ﷻ نعمتونه بې شمېره دي، انسان نشي کولای چې په دنیا کې د الله ﷻ نعمتونه په حساب او کتاب کې راوړي، خو انسان ته چې الله ﷻ په دې دنیا کې کوم ستر نعمت ورکړی دی، هغه د ژوندي موجود په توګه د انسان په جامه (شکل) کې پیدایښت دی. همدغه موضوع د قرآن کریم د سورة التین په ﴿٤﴾ مبارک آیت کې په دې ډول سره بیان شوې ده: «لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴿٤﴾.» ژباړه: مونږ انسان په ډېره ښه بڼه پیدا کړ﴿٤﴾. (کشاف،۱۳۸۸ل: ۶۰۴مخ). همدارنګه په سورة المؤمنون کې هم الله ﷻ د انساني پیدایښت ټولو مراحلو ذکر ډېر واضح او څرګند ډول سره په داسې الهی شان بیان کړی دی: «ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا ٱلْمُضْغَةَ عِظَاماً فَكَسَوْنَا ٱلْعِظَامَ لَحْماً ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقاً آخَرَ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَالِقِينَ﴿١٤﴾.» ژباړه: بیا مو هغه څاڅکي ته د برغنډ بڼه ورکړه، بیا مو برغنډ بوټۍ وګرځوله، بیا مو بوټۍ هډوکي جوړ کړل، بیا مو هډوکو ته غوښه ور واغوستله، بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړ کړ، نو ډېر زیات برکتناک دی الله، تر ټولو پیدا کوونکو ښه پیدا کوونکی. (کشاف، ۱۳۸۸ل: ۳۴۳مخ)

د سورة الکهف ﴿۳۷﴾ مبارک آیت رانقلوو، ځکه چې هره جمعة یې تلاوت سنت دی: قَالَ لَهُ صاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِى خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجلاً﴿۳۷﴾ ژباړه:  د هغه ګاونډي په خبرو اترو کې هغه ته وویل: « ایا ته په هغه ذات کافر کېږي چې هغه، ته له خاورې او بیا له نطفې څخه پیدا کړې او ته یې یو بشپړ سړی جوړ کړې؟». (کشاف،۱۳۸۸ل: ۲۹۸مخ).

د پورته آیتونو مفهوم ته په کتو سره عبدالرحمن بابا هم په خپلو اشعارو کې د الله ﷻ دې ستر نعمت ته په ډېر ښکلي او شاعرانه انداز سره اشاره کړې ده. همدارنګه یادونه کوي، د الله ﷻ یو ستر نعمت دا دی چې انسان یې پیدا کړی یم، ځکه چې انسان افضل المخلوقات دی او په ځمکه کې د خلافت د چارو پر مخ وړلو مسؤلیت هم په غاړه لري، بله دا چې الله ﷻ دا نعمت هم راباندې لورولی دی چې د حضرت محمد ﷺ امتي یې پیدا کړی یم:

هســـې رنـــګ نعمـــت را کـــړی خـــدای و مـــا دی

چـــې هـــېڅ هـــېڅ بهـــا يـــې نشـــته بـــې بهـــا دی

يـــو خـــو دا چـــې يـــې پـــه شـــکل د آدم کـــړم

دويـــــم دا چـــــې محمــــد مـــــې رهـــــنما دی

(عبدالرحمن، ۱۳۸۴ل: ۴۰۷مخ )

لکه څنګه چې پورته ذکر شول، الله ﷻ انسان په ښکلي شکل او ښه سره پيدا کړی دی، ورسره د دې خبرې يادونه هم ضرور ده چې الله ﷻ انسان په ډېر متوازن ډول سره خلق کړی، که چيرته پښې د لاسونو پر ځای او لاسونه د پښو په ځای وای يا يو لاس لنډ او بل اوږد وای، يا سترګې په سر کې د پاسه پورته لورته وای نو انسان به په دنيا کې د ځومره ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ شوی وای، يا دا چې د ننني نړۍ دا ستر پرمختګونه به څنګه رامنځته شوی وای، بلکې دا هر څه د الله ﷻ يوه ستره لورينه ده. په قرآن عظيم الشان کې د انساني وجود د غړو تناسب په اړه د الانفطار سورة په مبارکو آيتونو کې داسې فرمايي: «يٰأَيُّهَا ٱلْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلْكَرِيمِ﴿٦﴾ ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ﴿٧﴾ فِي أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ﴿٨﴾.» ژباړه: ای انسانه څه شي ته د خپل هغه مهربانه خدای له لوري په غولونه کښې واچولې﴿٧﴾ چې هغه ته پيدا کړی يې، ستا اندامونه يې برابر کړي دي، ته يې په انډول جوړ کړی يې﴿٨﴾ او په هره ښه ی ې چې خوښه شوه ته يې ښنلولی جوړ کړې. (کشاف، ۱۳۸۸ل: ۵۹۳مخ)

د سورة الاعراف په ﴿۱۹۵﴾ مبارک آيت کې فرمايي: «أَلَهُمْ أَرْجلٌ يَمْشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا قُلِ ٱدْعُواْ شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلاَ تُنظِرُونِ﴿۱۹۵﴾.» ژباړه: ايا د دوی پښې لري چې ور باندې لاړ شي؟ ايا دوی لاسونه لري چې په هغو سره ونيسي؟ ايا دوی سترګې لري چې په هغو سره ووينې؟ ايا دوی غوږونه لري چې په هغو سره واوري؟ ای محمده ﷺ! دوی ته ووايه چې خپل انګېرلي شريکان راوبلي بيا تاسې ټول لاس يو کړئ زما پر خلاف دسيسې جوړې کړئ او ماته هېڅکله مهلت مه راکوئ.(کشاف،۱۳۸۸ل: ۱۷۶مخ) د قرآن کريم په دغو مبارکو سورتونو کې هم د دې موضوع يادونه په بېلابېلو ډولونو سره شوې، لکه: سورة الاعراف، سورة النور او سورة يٰس.

د پورته آيتونو د مفاهيمو په رڼا کې عبدالرحمن بابا وايي چې الله ﷻ په انسان يو بل ستر انعام کړی، هغه دا دی چې لاس، پښې، سترګې، خوله او ژبه يې ورته ورکړې دي، بلکې دا ټول يو صورت دی خو په بېلابېلو نومونو سره نومول شوی دی، لکه چې وايي:

لاس و پښې، غوږ و سترګې، خوله او ژبه

يو صورت مې په څو اسمه مسمی دی

(عبدالرحمن، ۱۳۸۴ل: ۴۰۷مخ)

بله دا چې الله ﷻ په قرآن عظيم الشان کې د انسان د پيدايښت په اړه څو ځايه ذکر کړی چې انسان له خاورې څخه پيدا شوی، دا خبر د قرآن کريم په مبارکو آيتونو کې وضاحت لري چې الله ﷻ انسان له خاورې څخه پيدا کړی دی، لکه د سورة آل عمران په ﴿۵۹﴾ مبارک آيت کې په داسې شان ذکر شوي دي: «إِنَّ مَثَلَ

عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثِمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴿۵۹﴾.» ژباړه: د الله ﷻ په وړاندې د عيسی علیهم السلام مثال د ادم علیهم السلام غوندې دی چې الله ﷻ هغه له خاورې نه پيدا کړ او امر يې ورته وکړ چې شه نو هغه وشو.(کشاف،۱۳۸۸ل: ۵۸مخ) د همدې موضوع په اړه د سورة الحج ﴿۵﴾ مبارک آيت کې داسې فرمايي: « يٰأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِّن تُرَابٍ....» ژباړه: ای خلکو! که د مرګ نه وروسته ژوندانه په باب ستاسې څه شک وي نو تاسې ته دې څرګنده وي چې موږ تاسې له خاورې نه پيدا کړي يئ..... په سورة الروم ﴿۲۰﴾ مبارک آيت په دې ډول سره دی: «وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَكُمْ مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُمْ بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ﴿۲۰﴾.» ژباړه: د هغه له نښانونه دا ده چې هغه تاسې له خاورې څخه پيدا کړی نو تاسې بشر ياست چې په ناڅاپي ډول (په ځمکه کې) خوريږئ. (کشاف،۱۳۸۸ل: ۴۰۷مخ) په سورة السجدة ﴿۷﴾ مبارک آيت په دې ډول سره دی: «ٱلَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ وَبَدَأَ خَلْقَ ٱلإِنْسَانِ مِن طِينٍ﴿۷﴾.» ژباړه: هغه چې هر شی پيدا کړ ډېر ښه يې پيدا کړ او هغه د انسان د هستونې پيل له پخې شوې ختې څخه وکړ. (کشاف، ۱۳۸۸ل: ۴۱۶مخ)

دغه شان له خاورې څخه د انسان د پيدايښت مسئله د سورة الحجر، سورة ص، سورة النحل، سورةالاعراف، سورة الانعام، بني اسرائيل، الکهف، الحج، المؤمنون، الصافات، ص او المؤمن په مبارکو سورتونو کې په ډېر تفصيل بيان شوې ده، له ټولو څخه دا خبره ښه روښانه کېږي چې الله ﷻ ټول انسانيت (انسانان) له يوه مور او پلار (حضرت آدم او بي بي حوا) څخه پيدا کړي دي.

د پورته مبارکو آيتونو مفاهيمو په رڼا کې عبدالرحمن بابا هم دا خبره په ډېر وضاحت سره کوي چې الله ج انسان له خاورې څخه پيدا کړی دی، بله دا چې په اوسنۍ شعروشاعرۍ کې خاوره د عاجزۍ او خاکسارۍ د سمبول په توګه هم کارول شوې ده. نو ځکه بابا هم انسان ته خطاب کوي چې ای انسانه! زه دې پېژنم چې ته په اصل کې له خاورو څخه پيدا يې، نو بيا ولې کبر او غرور کوي، لکه چې وايي:

زه دې پېژنم په اصل کې تراب يې
ته چې ځان ښندې په ګوته له ترابه
(عبدالرحمن، ۱۳۸۴ل: ۲۵۸)

په قرآن مجيد کې د انسان د پيدايښت په اړه دا خبره په واضح او څرګند ډول سره بيان شوې چې د ټولو انسانانو پيدايښت يوه ګډه منشاء لري، يعنې ټول انسانان له يوه انسان (آدم) عليه السلام څخه پيدا شوي دي، د سورة النساء په ﴿۱﴾ مبارک آيت کې دا ډول الهي ارشاد دی: «يٰأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَآءً وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِ وَٱلأَرْحَامَ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً﴿۱﴾.» ژباړه: ای خلکو له خپل هغه رب نه ووېرېږئ چې هغه تاسې له يو تن څخه پيدا کړئ او له هماغه تن څخه يې د هغه جوړه مينځ ته راوړه او له دې دواړو نه يې په نړۍ کې ډېر نارينه او ښځې خواره کړل، له هغه خدای نه ووېرېږئ چې د هغه په وسيله تاسې يو له بل نه خپل حقوق غواړئ او د خپلولۍ او پيوندونو له غوڅولو نه ډډه وکړئ، باور ولرئ چې الله ﷻ پر تاسې څارونکی دی. (کشاف،۱۳۸۸ل: ۷۸مخ)

د سورة الانعام په ﴿۹۸﴾ مبارک آیت کې نازل شوي دي: «وَهُوَ ٱلَّذِي أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ قَدْ فَصَلْنَا ٱلْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴿۹۸﴾.» ژباړه: او هماغه ذات دی چې تاسې یې له یو نفس څخه پیدا کړئ بیا د هر یوه له پاره د تقرر نیولو یو ځای دی او یو د هغه د ورسپارنې ځای. دا نښانې موږ د هغو خلکو له پاره څرګندوې کړې دي چې پوهه او ادارک لري. (کشاف،۱۳۸۸ل: ۱۴۱مخ)

عبدالرحمن بابا هم د پورتنیو مبارکو آیتونو مفاهیمو ته په کتو سره وایي چې ټول انسانان له یوه مور او پلار څخه زېږېدلي دي او په ټوله کې انسانان د یو وجود مثال او حیثیت لري، ځینې پاک یعنې نیک عمل او نیکان دي او بله ډله یې بد خلک دي، حال دا چې د دوی په پیدایښت کې چې کومه ماده موجوده ده هغه د دواړو (نیکو او بدو) خلکو په وجود کې یو شان ده.

ادم زاد پـــه معنـــی واړه یـــو وجـــود دی
یـو وجـود دی هـم یـې پـاک هـم یـې نجـس کـا
(عبدالرحمن، ۱۳۸۴ل: ۶۹مخ)

همدا پورته مطلب په لاندې بیت کې په لږ څه بدلون سره بیان شوی، ځکه چې د لاندې بیت لومړۍ مسره کټ مټ د پورته بیت له لومړۍ مسرې سره یو شان مفهوم لري، لکه څنګه چې د قرآن عظیم الشان په پورته مبارکو آیتونو کې هم ورته اشاره شوې وه، د دې بیت دویمه مسره بیا د انسانانو تر منځ یو بل ته د تکلیف او زحمت رسولو مسئلې ته داسې اشاره کوي، که چیرته د یو انسان د وجود یو اندام ته ضرر ورسېږي نو ټول بدن یې ورسره په تکلیف او زحمت کې وي یعنې ټول انسانان د یو وجود مثال لري، نوکه چېرته په ټولنه کې یو انسان ته تکلیف او زحمت رسېږي، ټولنه به ورسره په تکلیف او زحمت کې وي، لکه چې وایي:

آدم زاد په معنا یو صورت دی
هر چې بل ازار وي هغه ازار شي
(عبدالرحمن، ۱۳۸۴ل: ۳۶۰مخ)

د فارسي ژبې مشهور شاعر سعدي شیرزاي هم دغه موضوع په خپل مشهور شعر کې داسې بیانوي:

بنـــــی آدم اعضــــــای یکدیگرنـــــــد
کـــــه در آفــــرینش زیــــک گوهرنـــــد
چـــو عضـــوی بـــه درد آورد روزگــــار
دیگـــــر عضـــــوها را نمانـــــد قـــــرار
تـــو کـــز محنـــت دیگـــران بـــی غمـــی
نشــــاید کــــه نامــــت نهنــــد آدمــــی
(سعدی شیرازی، ۱۳۷۶ل: ۷۹ – ۸۰ مخونه)

انسان سره له دې چې په په قرآن عظیم الشان کې ډېر ستایل شوی او لوړه مرتبه ورته ورکړل شوې ده، خو بیا له دې سره سره د ځینو خویونو او اعمالو په ترسره کولو د حیوان (څاروي) او حتی له هغه څخه یې هم مرتبه او مقام

ټيټېداى شي، لکه چې الله ﷻ په سورة الاعراف کې د نوموړي موضوع په اړه داسې فرمايي: «وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيراً مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلإِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لاَّ يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لاَّ يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لاَّ يَسْمَعُونَ بِهَآ أُوْلَـٰئِكَ كَٱلأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَـٰئِكَ هُمُ ٱلْغَافِلُونَ﴿١٧٩﴾.» ژباړه: او دا حقيقت دی چې زياتره پيريان او انسانان داسې دي چې هغوی مو د دوزخ له پاره پيدا کړي دی. د هغوی زړونه شته خو هغوی ور باندې فکر نه کوي. د هغوی سترګې شته خو څه ور باندې نه ويني. د هغوی غوږونه شته خو څه پرې نه اوري. هغوی د څارويو په شان دي؛ بلکې له هغو نه هم لاپسې تېر، دا هغه خلک دي چې په غفلت کې لويدلي دي.(کشاف، ۱۳۸۸ل: ۱۷۵ مخ).

همدا ډول انسان د الله تعالی د آيتونو په انکار او تکذيب سره د خپل لوړ مقام او مرتبې څخه تنزل کوي او په قرآن عظيم الشان کې داسې انسان د سپي په څېر ښودل شوی، د سورة الاعراف په ﴿۱۷۶﴾ آيت کې داسې راغلي دي: «وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَـٰكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى ٱلأَرْضِ وَٱتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا فَٱقْصُصِ ٱلْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴿١٧٦﴾.» ژباړه: که مونږ غوښتي وای نو هغه ته به مو د هغو آيتونو په وسيله لوړتيا ور په برخه کړې وه. خو هغه د ځمکې لوري ته سر کوزی شو او د خپل نفس پيروي يې وکړه، نو د هغه حالت د سپي پشان شو چې که ته پرې حمله وکړې هم ژبه راځوړندوي او که پرې ايږدې هم ژبه راځوړندوي همدغه د هغو خلکو مثال دی چې زمونږ آيتونه دروغ ګڼي. ته دا قصې دوی ته اوروه، ښايي چې دوی څه غور او پاملرنه وکړي.(کشاف، ۱۳۸۸ل: ۱۷۴مخ)

عبدالرحمن بابا د پورته مبارک آيت مفهوم ته په کتو سره د آدم (انسان) په اړه وايي چې په آدم (انسان) کې د حيوان خويونه هم شته، خو اصلي خبره دا ده چې انسان ته په خپله حيوان ناطق ويل شوی دی، خو دلته د عبدالرحمن بابا موخه د حيوان له کلمې څخه ناطق حيوان نه بلکې څاروی دی، هغه وايي انسان هغه وخت انسان کيدای شي چې حيواني خويونه او عادات پرېږدي او که چيرته له دغو ناوړو خويونه او اعمالو څخه لاس په سر نه شي نو د حيوان او حتی له هغه څخه هم بدتر دی، لکه چې وايي:

په آدم کې د حيوان خويونه شته دی

بيا هاله يې آدم بوله چې آدم شي

(عبدالرحمن، ۱۳۸۴ل: ۳۷۳مخ)

الله ﷻ انسان په ډېر ښکلي شکل او جوړښت پيدا کړی دی، خو که انسان د الله تعالی د اوامرو اطاعت ونه کړي نو الله تعالی به يې تر ټول ټيټې درجې ته راښکته کړي، لکه د سورة التين په مبارکو آيتونو کې چې فرمايي: «لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴿٤﴾ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ﴿٥﴾.» ژباړه: مونږ انسان په ډېره ښه ښه پيدا کړ﴿٤﴾ بيا مو هغه په چپه را اړولو له ټولو لاندينيو څخه لاندې کړ﴿٥﴾. (کشاف،۱۳۸۸ل: ۶۰۴مخ)

دا خو روښانه خبره ده چې آدم (انسان) په ټوله کې يو وجود دی، يعنې د يوه مور او پلار اولاد دی، خو الله ﷻ همدا د يو مور او پلار اولاد په څو څو رنګه سره پيدا کړی دی، چې کله لوړ شي، کله ټيټ شي کله يو ډول را څرګند شي او کله بل ډول را څرګند شي، نو عبدالرحمن بابا هم دا خبر په خپله وينا کې داسې څرګندوي:

یو آدم دی چې څو رنگه جلوه کا
یو رقم دی کله زور شي کله زیر شي
(عبدالرحمن، ۱۳۸۴ل: ۳۶۳مخ)

## پایله

د انسان پیدایښت د ځمکې په مخ د الله ﷻ یوه ستره پیرزوینه ده. په دنیا کې د الله ﷻ نعمتونه بې شمېره دي، انسان نشي کولای چې په دنیا د الله ﷻ نعمتونه په حساب او کتاب کې راوړي، خو انسان ته چې الله ﷻ په دې دنیا کې کوم ستر نعمت ورکړی دی، هغه د ژوندي موجود په توگه د انسان په جامه (شکل) کې پیدایښت دی. بله دا چې الله ﷻ په قرآن عظیم الشان کې د انسان د پیدایښت په اړه څو ځایه ذکر کړی چې انسان له خاورې څخه پیدا شوی، دا خبر د قرآن کریم او احادیثو مبارکو څخه ثابته شوې چې الله ﷻ انسان له خاورې څخه پیدا کړی دی، نو عبدالرحمن بابا هم انسان ته په خپلو اشعارو کې خطاب کوي چې ای انسانه زه دې پېژنم چې ته په اصل کې له خاورو څخه پیدا یې، نو بیا ولې کبر او غرور کوې، څوک چې کبر، لویي او غرور کوي هغه د ابلیس پلوی او طرفدار دی، نو انسان باید د شیطاني خویونو او اوصافو څخه ځان وساتي.

الله ﷻ ټول انسانیت (انسانان) له یوه مور او پلار ( حضرت آدم او بي بي حوا) څخه پیدا کړي دي. نو په دې اساس سره ویلی شو چې د ځمکې په مخ ټول انسانان یو وجود دی، خو دا چې انسان په دې اړه ډول، ډول سوچونه کوي هغه د دوی پوهه او فکر دی چې څه کوي او څنگه یې کوي. عبدالرحمن بابا هم وایي چې د دنیا ټول انسانان د یو مور او پلار څخه زیږېدلي دي او په ټوله کې انسانان د یو وجود مثال او حیثیت لري، ځینې پاک یعنې نیک عمله او نیکان دي او ځینې یې ناپاک او بدعمله خلک دي، حال دا چې د دوی په پیدایښت کې چې کومه ماده موجوده ده هغه د دواړو (نیکو او بدو) خلکو په وجود کې یو شان ده. دا موضوع د عبدالرحمن بابا په اشعارو کې څېړل شوې چې د قرآن عظیم الشان سره په مفاهیمو او مضامینو ورته والی یا نژدې والی لري او په دې لیکنه کې د قرآن عظیم الشان او د عبدالرحمن بابا د اشعارو څخه مستندې بېلگې وړاندې شوي دي.

## ماخذونه


ارمان، شهاب عزيز. (۱۴۰۱ل). د رحمان بابا پر شاعرۍ د قرآن او حديث اثرات. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست.

ترخوی، شیرشاه. (۲۰۰۰م). رحمان او قران. پېښور: وحدت پرنټرز، خیبر بازار.

سعدی شيرازي. (۱۳۷٦ل). گلستان سعدی. تهران: انتشارات صفی علیشاه.

عبدالرحمن. (۱۳۸۴ل). د رحمان بابا کلیات. سریزه، یادښتونه او وییپانگه، حنیف خلیل. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

عبدالرحمن. (۱۳۹۳ل). د عبدالرحمن بابا کلیات. اوډنه او سریزه، سیدمحی الدین هاشمي. ننگرهار: میهن خپرندویه ټولنه.

کامل مومند، دوست محمد. ( ۱۳۸۴ل). رحمان بابا. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

کشاف، قيام الدين. (۱۳۸۸ل). القرآن کريم له پښتو ترجمې سره. کابل: د پوهنې وزارت د خپرونو رياست.

ميرحاتم. (۲۰۲۲م). رحمان بابا د خپل کلام په رڼا کې. پېښور: الاحمد انټرپرائزز.